## جاپان او ملګرو ملتونو په ګډه  له افغانستان سره د۲۸۱ میلیونو ډالرو مرسته اعلان کړه

کابل د۲۰۱۳ د فبروری ۲۸-  د جاپان دولت او ملګرو ملتونو د افغانستان لپاره د ۲۸۱ میلیونه ډالرو مرسته  چې  د ۱۴ پروژو لپاره او د ملګرو ملتونو د ۹ نمایندګیو له خوا به پلی کیږی د امضأ مراسم یې نن په کابل کی تر سره شول. په دغو  مراسمو کې ښاغلي جماهیرانوري د کډوالو او بیرته راستنیدونکو وزیر، او د جاپان سفیر، ښاغلي هیروشي تکاشي، په کابل کی د جایکا میشت استازي یوشی کازو یامادا، د ملګرو ملتونو د سرمنشی د ځانګړي  استازي مرستیال او  د بشري مرستو همغږي کوونکي او د ملګرو ملتونو د نمایندګیو استازو برخه لرله .

د نن د اعلان شوو مرستو موخه د افغانستان د دولت په ګوته شویو، د ملی پرمختیا د لومړی توبونو ملاتړ کول او د جاپان د دولت د ژمنو یوه کړۍ ده چه د جولای په میاشت کې یې د توکیو په کنفرانس کې  کړې وه.

د جاپان سفیر وویل: "دنن اعلان شوې مرسته زمونږ د هغو مرستو کړۍ ده چه د ټوکیو په کانفرانس کې مو کړې وې . افغان دولت نه مو دا تمه ده چه خپلو ژمنو ته متعهد واوسي چې د فساد پر ضد مبارزه، د ښځو  غښتلي کول  او  د آزادو او عادلانه ټاکنو  ترسره کول دي". هغه د ملګرو ملتونو د نمایندګیو او د افغان دولت نه په شفافه توګه د دغو  مرستو  د لګولو هیله وکړه  او تمه یې څرګنده کړه  چې  دا مرستې هغو مستفیدینو ته ورسیږي چې  په پام کې  نیول شوي دي.

د نن اعلان شوې مرستې به د کرنې ، ښوونې، روغتیا، پولیسو، د سولې  پروسه، حکومتدارۍ او د بشري مرستو په برخو کې ولګول شي. د ملګرو ملتونو ادارې چه دغه مرسته به ورته رسیږی عبارت دي له : د ملګرو ملتونو د ماشومانو لپاره وجهی صندوق (یونسف)، د ملګرو ملتونو د خوراک او زراعت اداره (ایف ای او)، د ملګرو ملتونو د میشتیدنی اداره( هبیتات)، د ملګرو ملتونو پرمخیایي اداره (یو این ډی پی)، نړیوال خوراکي پروګرام (ډبلیو ایف پی)، د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونوعالي کمیشنري( یو این ایچ سی آر)، د ملګرو ملتونو دنشه یی توکواو جرمونو دفتر(یو این او ډی سی)، د ملګرو ملتونو دماین پاکولو دخدماتو اداره ( یو این ایم ای اس) او د کډوالۍ نړیوال سازمان. یونسف او ایف ای او به خپلی پروژې له  جایکا سره یو ځای پلې کوي.

د ملګرو ملتونو میشت استازي ښاغلي مارک باوډن وویل: "ملګري ملتونه د جاپان د دولت له پرله پسی او عالی مرستو نه مننه کوی دغه مرستې به د ملګرو ملتونو ادارې په دی وتوانوی چې په دولت کې د خپلو همکارانو سره په ګډه کار وکړی او تقریباً ۳،۶۰۰،۰۰۰ سړیو، ښځو، کوچنیانو او زده کوونکو سره د روغتیا او زده کړی په ډګر کې خپل خدمات وړاندی کړي دغه مرستی به ټولنی ته د خړوبونی سیستم، د معیشت بدیل او ماین پاکۍ کی کمک وکړي او بشري مرستې به زیان منونکی آبادۍ ته، د ننه بی ځایه شویو او بیرته ستنیدونکو سره مرسته وکړي، او اداری ظرفیتونه به قوي کړي چې د قانون پلی کول او محلی حکومتداری پکی شامل دي".

د جاپان دولت د ۲۰۰۱ کال نه راپد یخوا د افغانستان د امن او بیا رغونی سره مرسته کوي او اوس مهال د امریکا د متحده ایا لاتو نه وروسته دویم لوی تمویل کوونکی دی. د ملګرو ملتونو ادارې په افغانستان کې د اوږد مهال راهیسی د جاپان ددولت پلی کوونکی همکاران دی.

**دماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهی صندوق (یونسف)** ۲۹,۲ میلیونه ډالر په دوو مشخصو برخو کې یعنې ۱۵,۲ میلیونه دالر د ۳ میلیونه خلکو د صحي وضعیت د بهبود لپاره چې په هغه جمله کې ۶ سوه زره هغه ماشوم لرونکی میرمنې چې عمر یې له ۱۸ کلنو ټیټ دي او (۵۱۰۰۰۰) پنځه سوه او لس زره هغه ماشومان چه تر ۵ کلونو ټیټ عمر لري، او ۱۴ میلیونه ډالر دپایداره او با کیفیته تعلیم د ترویج لپاره چه ۹۴۵،۰۰۰ شاګردان په لسو ولایتونو کی تری ګټه پورته کړی.

اړیکه: راجات مډهوک، داړیکو او ارتباط کارپوه.

+93(0)790-507-111, rmadhok@unicef.org,

**دملګرو ملتونو دبشری میشتدنی اداره (یو این هبیتات )** ۲۳,۷۷ میلیونه ډالرد محلی ښاروالیو، د حمایوی پروګرام لپاره د ۵ ولایتونو لپاره چه ښاروالی حمایه کړی څو د ښاری چټک پرمختګ په ثبات کی او اداری او مسلکی ظرفیت یی پیاوړی کړی.

اړیکه: واټارو کاواساکی، د راپور او تفتیش همغږی کوونکی.

+93(0)791-611-019, wataru.kawasaki@unhabitat-afg.org

**دملګرو ملتونود خوړو او کرنی سازمان (ایف ای او )** ۲۳,۳۳ میلیونه ډالر داوبو لږونی د سیستم د پرمختیا لپاره چه په ۳ ولایتونو کی چه د ۳۴ میاشتو لپاره دی ۷۰ زره کلیوالی کورنی تر پوښښ لاندی نیسی.

اړیکه: پاول شلانکی، تخنیکی مشاور.

+93 (0) 797254967, paul.schlunke@fao.org

**دملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام (یو این ډی پی )** ۱۷۴,۵ میلیونه ډالر د څلورو کلیدی برخو لپاره لاسته راوړی. ۱۲۲,۵ میلیونه ډالر د افغان ملی پولیسو د تقوی غښتلتیا لپاره، ۶,۴۸ میلیونه ډالر دنا قانونه وسلوالو د ډلو د منحلو لو او دبیا پایښت ( مجدد استقرار) لپاره د ملی ساحی پر بنسټ انکشافی پروګرام (این ای بی ډی پی) له لاری، ۳,۱۶ میلیونه ډالر په افغانستان کی د مرکزی او محلی ادارو جوړونه او د اداری او مسلکی ظرفیتونو لوړوالی ته په پام کی نیول شوی چه معیاری او ډاډمن خدمات وړاندی کړی. ۲ میلیونه ډالر د محلی حکومتوالی داداری او مسلکی ظرفیت جوړونی ته ځانګړی شوی.

اړیکه: کمار ایم ټیکو، د اړیکو او ارتباطاتو کارپوه.

+93 (0) 797789721, kumar.tiku@undp.org

**دملګرو ملتونو د نشه یی توکو او جرمونو دفتر (یو این او ډی سی )** ته ۶ میلیونه دالر په دوو برخو کی ځانګړی شوی. ۲,۵ میلیونه ډالر د قانون پلی کولو، د ظرفیت د لوړوالی او د معیشت د بدیل مداخله او ۱,۲ میلیونه ډالر دمنطقه یی قانون پلی کوونکو همکاری د پاره ځانګړی شوی دی.

اړیکه: یلینا بیلیکا، د باندنیو اړیکو آمره.

+93(0)796-520-857, jelena.bjelica@unodc.org

**دملګرو ملتونو د ماین پاکولو د خدمتونو اداره (یو این ایم ای ایس)** ته ۳,۵ میلیونه ډ الر ورکول کیږی چه د ۱,۹ کیلو متره مربع په مساحت د خطر ساحی په څلورو ولایتونو کی پاکی کړی. چه نژدی ۱۱۳۷۰ ګته اخیستونکی او ۳۵۲ کسانو ته د کار موقع برابره کړی. په ملی کچه د سروی ګانو اجرا کول او۱ ۱،۴۴۹ ټولنو نه د ناچاوده مهماتو لری کول او د ماین پاکئ د عملیاتی فعالیتونو همغږی کول په کی شامل دی.

اړیکه: ایډوین فیګمین،د پروګرام ستر آفسر.

+93(0)705966382, EdwinF@unops.org

**دملګرو ملتونو د کډوالئ عالی کمیشنرئ (یو این ایچ سی آر)** ته ۲۴,۲۵ میلیونه ډ الر ځانګړی شوی چه دبیرته ستنیدنکو او داخلی بی ځایه شوو ته په افغانستان کښی او مهاجرینو ته په ایران او پاکستان کی د داوطلبانه بیرته ستنیدنی امکان زیات کړی،په نوروخدماتو کښی د بنسټ او سر پناه تقویه کول، د ښځینه د اوبو برابرول او قانونی مرستی ته د لاس رسی لوړول شامل دی.

اړیکه: محمد نادر فرهاد، ویاند.

+93(0)791990018, farhadm@unhcr.org

**دملګرو ملتونو نړیوال خوراکی پروګرام (ډبلیو ایف پی)** ته ۲۱ میلیونه ډ الر ځانګړی شوی چه ۲۰ میلیونه یی د بیا رغونی د عملیاتو د مرستو غځولو ته چه اضطراری خوراکی او غذایی مرستو برابرول دی، ۱ میلیون دالر یی د ملګرو ملتونو بشری هوایی خدماتو ته ورکول کیږی چه بشپړی بشری ټولنی ته مسؤن او ډاډمن خدمات وړاندی کړی.

اړیکه: سیلک بهر، د اړیکو او لاسرسی ر ئیس .

+93(0)706-004-882, silke.buhr@wfp.org

**د کډوالی نړیوال سازمان (آی او ایم )** ته۹ میلیونه ډ الر ځانګړی شوی چه د پاکستان او ایران د زیان منونکو راستنیدونکو ته د استقبال او دوباره پایښت لپاره، د انسانی قاچاق د قربانیانو د موندنی او محافظت او د ایران څخه د مستحقو افغانانو راستنیدونکو سره مرستی شا ملی دی.

اړیکه: آنچل کهورانا، ویانده .

+93(0)793-206-076, AKHURANA@iom.int